# د پښتو د نوې شاعرۍ اغاز او ارتقاء:

د پښتونوې شاعري د شلمې پېړۍ له راپيليدو سره پيل شوه، دا وخت پښتو شعر د موضوع اوبڼې دواړو له اړخه بدلون وموند او نوې لارې او لوري يې پيدا کړل.

د پښتو شعر په دې موضوعي او شکلي بدلون کې کورني او بهرني عوامل اغېزمن وو .پښتو شعر له همهغه پيل نه د ژوند شعر ؤ او د پښتو د ژوند بېلابېل اړخونه يې پکې منعکسېدل، په نولسمه پېړۍ کې انګريزانو دوه ځل پر افغانستان تېرى وکړ او د دواړو تېريو په پايله کې يې غاښ ماتوونکې ماته وخوړه چې موضوع په پښتو شعر کې ژور انعکاس درلود. انګريزانو د افغانستان د خوړلو له پاره د نولسمې پېړۍ په پاى۱۸۸۳ع کې د افغانستان په زړه کې د ډېورنډ د ناولې کرښې په تېرولو سره موجوده افغانستان د خپل لاسپوڅي پاچا امير عبدالرحمن خان په لاس کې ورکړ او د تحت الحمايه حکومت له لارې يې اداره کاوه او د ډيورنډ تر کرښې هغه خوا سيمې يې په برتانوي هند ور ګډې کړې او تر خپل مستقيم ښکيلاک لاندې يې راوستې.

د یوه هېواد دې ظالمانه وېش د هېواد روڼ اندي او دراك زامن ودرول او په لره او بره پښتونخوا کې د مبارزې احتجاج ، قیام او پاڅون له پاره تابیا کېدله .پښتو شعر له همدې وخت نه په لره او بره پښتونخوا کې د آزادۍ د شعار په توګه خپل غږ راپورته کړ او د آزادۍ غوښتنې په نوي مضمون سنبال شو.

په افغانستان کې د شلمې پېړۍ له راپیلیدو سره د افغانستان مستبد پاچا امیر عبدالرحمن خان مړ شو او د ده د تعلیمیافته زوی امیر حبیب الله خان په پاچاکیدلو سره د هیواد روشنفکرانو د نسبي سیاسي تنفس زمینه ومونده او د مطبوعاتي او سیاسي مبارزې له لارې له کورني استبداد او بهرني ښکیلاك نه د خلاصون له پاره راولاړ شول، سراج الاخبار افغانستان یې په ۱۹۰۶کال نشر کړ خو د لومړۍ ګڼې ترخپریدو وروسته یې د چاپ مخه ونیوله شوه ، بیایې د مشروطیت د غورځنګ په نامه په ۱۹۰۹ع کال سیاسي ګوند جوړ کړ خو مستبد حکومت د بهرني ښکیلاك په اشاره د دې غورځنګ سرلارې او غړي اعدام او بندیان کړل خو بیا هم روڼ اندو په بله بڼه خپل روشنفکري کارته دوام ورکړ او په ۱۹۱۱ع کال علامه محمود طرزي د سراج الاخبار افغانیه په خپرولو سره فکري مبارزه پیل کړه په همدې اخبار کې علامه محمود طرزي د پښتو د ښکیلاك ضد او ویښوونکو شعرونو خپرول پیل کړل.

چې دلته هم لوستل کیدل او د ډیورنډ کرښې هاخوا هم د پښتونخوا آزادۍ غوښتونکو لوستل او لاس په لاس ګرځیدل ، له دې سره جوخت په ۱۹۱۰ع کال اروابښاد راحت زاخیلي هم په پېښور کې د افغان جریدې په خپرولو سره د هغه ځای د شاعرانو د استعمار ضد او آزادي غوښتونکو شعرونو په خپرولو لاس پورې کړ او له همدې سره په پښتو شعر کې د رونتابه نوې دوره پیل شوه او د موضوع له مخې په نوي مضمون پښتو شعرونه وویل شول.

تر دې وخته پښتو شاعرۍ د بنې له پلوه زاړه قالبونه درلودل، له زرګونو کلونو راهیسې د پښتو شعر یوه برخه په اولسي صنفونو او ژانرونو لکه : لنډیو، نارو، سروکیو او نورو کې ویل کېده،

یوه برخه یې لرغوني سندرې وې لکه د امیر کروړ، بیټ نیکه، بختیار کاکي او نورو پاړکي، بله کورنۍ یې د عامیانه شاعرۍ وه لکه : چاربیتې ، بدلې، مقامونه، بګتۍ او نور، بله برخه یې له عربي نه په راغلو قالبونو کې ویل شوي شعرونه وو لکه :قصیدې، غزلې، مثنوي او نور، په نولسمه پېړۍ کې د هندي شاعرۍ د مقامونو قالبونه او راګونه لکه : بیرمي، پاړي، کلیان او نور پښتو شاعرۍ ته راغلي وو.

د موضوع له نویوالي سره د شعر د زړو قالبونو د ماتولو هڅه هم پیل شوه او په دې ترتیب د موضوع او بڼې له پلوه په پښتو شعر کې بدلون او ان اوښتون راغلی.

کله چې د پښتو نوي شعر لړۍ علامه محمود طرزي په خپل اخبار کې پیل کړه انګریزي ښکیلاک سخت ټکان وخوړ ځکه دا اخبار په لره پښتونخوا کې هم لوستل کېده او پښتانه یې د انګریزي ښکیلاک پر ضد پارول نو ځکه انګریزانو خپل لاسپوڅي واکمن امیر حبیب الله خان ته له برتانوي هند نه رسمي لیکونه راولېږل چې د پښتو شعرونو خپرول دې په سراج الاخبار افغانیه کې بند شي، حکومت به علامه محمود طرزي ته د پښتو شعرونو خپرولو امر وکړ خو طرزي به څه وخت د پښتو شعرونو خپرول وځنډول او تر دمې وروسته به یې یو ځل بیا یو پښتو شعر چاپ کړ او یو ځل بیا به له برتانوي هند نه د انګریزي ښکیلاک د احتجاج غږ راپورته شو، دی به بیا یو وخت غلی ؤ او د فرصت په برابرۍ به یې یو ځل بیا پښتو شعر چاپ کړ او دې یو ګام پر شا او دوه ګامه پر مخ سیاست تر هغه دوام وکړ چې په ۱۹۱۹کال د افغانستان ځواک ټولواک اعلیحضرت غازي امان الله خان له پاچا کېدو سره سم د افغانستان بشپړه خپلواکي اعلان او تر لاسه کړه.

په سراج الاخبار کې لومړنی چاپ شوی پښتو شعر د مولوي صالح محمد خان دی چې د ۱۹۱۴ع کال د جون په ۲۵نېټه دعبدالرحمن خان لودین له یوې یادونې سره

نشر شو، د مولوي صالح محمد د شعرونو خپریدلو دوام وکړ او د ۱۹۱۴کال په پای کې چې د لومړۍ نړیوالې جګړې په ترڅ کې انګریزانو د ترکیې د اسلامي هېواد پر ضد لښکر کشي کوله د افغانستان ملت یې سخت وپاراوه، انګریزانو هڅه کوله چې افغانستان بې طرفه پاته شي او د افغانستان له تر لاس لاندې امیر نه یې د بې طرفۍ ژمنه واخیسته، د سراج الاخبار د ۱۲۹۴کال د وري په ۲۶نېټې په ګڼه کې د مولوي صالح محمد د یوه شعر خپرېدلو چې پکې راغلي وو:

انګریزان تلولي کړل ، د افغانستان بې طرفۍ ته یې په شك وکتل، لومړی یې په برتانوي هند کې د اخبار د دې ګڼې د خپریدلو مخه ونیوله او د برتانوي هند فارن سکرټري د صوبه سرحد (خیبر پښتونخوا )چیف کمشنر ته ولیکل )) : د کابل د شاهي مدرسې یوه تن صالح محمد نومي په پښتو یو شعر ویلی چې خدای المان د برتانیې پر ضد پاڅولی څرنګه چې شعر په پښتو دی نو مطلب یې دا دی چې په صوبه سرحد(خیبرپښتونخوا) کې هم نشر شي نو په برتانوي هند کې د سراج الاخبار د اپریل د ۱۶ګڼې د خپریدو مخه ونیسئ (او ورپسې یې د انګلیس د) سي . آی . ډدي ((یعنې استخباراتو رییس ته راپور ورکړ او بیا نو د هند وایسرا د افغانستان امیر ته یو له سرټکونې ډك لیك ولیکه څو د سراج الاخبار غوځمنه ژبه بنده کړي او بیا نو تر لاس لاندې امیر ځواب ورکوي چې د سراج الاخبار مدیر ته ویل شوي چې پاروونکي

مطالب نشر نه کړي او همدا وو چې په سراج الاخبار کې دپښتو نشراتو لومړۍ ځپه غلې شوه او څه رنګه چې علامه محمود طرزي ته د دې کار دوام د سراج الاخبار په مرګ تمامیده نو ځکه يې مصلحتاً د څه وخت له پاره د پښتو شعرونو خپرول وځنډول.

د ۱۲۹۴المریز کال په ثور کې د سراج الاخبار د پښتو یو بل بادرده او هېواد پال همکار ومومند ، دا ځوان د سراجیه دارالمعلمین مدیر غلام محی الدین افغان ؤ چې خپلې د وطن د مینې ترانې يې ورته وسپارلې:

نظروکړه زما وروره　　　ته کره د مځکي ګوره

توربدلې قهربدلې　　　دنیا ده په شور راغلې

په یورپ ، که په ایشیا دي　　　لوی دول چې په دنیا دي

په سرو وینو آغشته دي　　　ټول په جنګ سره اخته دي

ډېر مغموم خورا خپه دي　　　انګریزان په ویر اخته دي

د رومیانو ، عثمانیانو                همت ګوره د ترکانو                دا

سراج الاخبار ته د **غلام محی الدین افغان** د لومړي سپارل شوي شعر مطلع وه، د ده یوه بله د همدې کال د میزان د ۱۸ په ګڼه کې هم راغله.

خپل وطن ماته عزیزدی تر خپل تن                زړه زما ډک دی له میني د وطن

وریسې په بېلابېلو ګڼو کې د **عبدالعلي مستغنی**، **عبدالهادي داوي** او نورو شعرونه راغلل، بیا د دې کال په ژمي کې د انګریزانو دیاد شوي تهدید او مخالفت له امله سراج الاخبار پښتو برخه نه درلوده.

د ۱۲۹۵کال په پسرلي کې یو ځل بیا د مولوي صالح محمد په شعرونو سراج الاخبار پښتو خپرونې پیل کړې ، دهمدې کال د قوس د ۱۹ په ګڼه کې د )) حسیات ملي ((تر سرلیك لاندې د ملا محمد خان عرض بیګي یوه خوږه ملي چاربیته خپره شوه:

په دنیا کې دی هر څه لره زوال                امید مه کړه چي همیش به یې خوشحال

په دې توګه علامه طرزي یو ځل بیا په سراج الاخبار کې پښتو خپرونې ورو ورو اوج ته ورسولې او یو ځل بیا یې د خپلې اصلي موخې په لور یون پیل کړ، دغلام محی الدین افغان وطني او ملي شعرونه یې پرله پسې پکې نشر کړل اوپښتو خپرونو ته یې پراختیا ورکړه ، د همدې کال د دلوې د پنځم په ګڼه کې محمود طرزي او د ده ملګرو

یو بل زړور توب وکړ او په داسې وخت کې چې پاچا په ننگرهار کې ؤ د عبدالهادي داوي د )) بلبل گرفتار ((دري شعر یې نشر کړ چې د افغانستان د آزادۍ غوښتنې هیله پکې نغښتې وه، د ۱۲۹۶د جوزا د دوهم په گڼه کې د ادبیات ملي تر عنوان لاندې د دې شعر پښتو ژباړه چې مولوي صالح محمد په خاص خوږ والي او سلاست کړې وه ، خپره شوه . وروسې سراج الاخبار د خپل ژوند تر پایه ) ۱۹۱۸ع (پښتو شعرونه نشر کړل او له دې لارې یې د پښتو اوسنی ادب و روزه.

شعر دوه اړخونه لري :مضمون او شکل، یا خوند او رنگ چې کله یې د مضمون خواته ډېره توجه کیږي او کله د شکل خواته ، زموږ په اوسني ادب کې مضمون ته پاملرنه او اساسي غوښتنه وه او زموږ نوي ادب داسې وخت سترگې وغړولې چې زموږ ملي غوښتنې د ملت د سیاسي او بشپړې خپلواکۍ په پوله ولاړې وې او زموږ د دې وخت شاعر رسالت درلود چې دا غوښتنې په خپل شعر کې منعکسې کړي، دوی هم همداسې وړل او شعرونه یې د اوسني ادب پیلامه شول .دې شاعرانو د موضوع د اهمیت له مخې لومړی د شعرد مضمون نوي تابه ته لاس اوږد کړ او د خپل دې هدف له پاره یې هماغه زاړه شعري کالبونه استخدام او خپل نوي فکرونه یې پکې ځای کړل .موږ ولیدل چې په سراج الاخبار کې د اوسني ادب راغلي شعرونه زاړه کالبونه لري، په دې اخبارکې لومړی چاپ شوی شعر د قصیدې بڼه لري:

خیل د بدو ورته مه کړی نګونسار به شی          افغانستان خلګ زمري دي پرې افګاربه شی

او دوهم شعر يې چې اروابناد عبدالهادي داوي ويلی دی:

چې راغلی په افغان دی          دا څه عجيب دوران دی

د هغې زړې وعظيه او نعتيه مثنوي په بڼه دی چې سوونه کاله پخوا يې په (رشيد البيان ، اسرارالعارفين ((او نورو کې نمونې راغلې دي خو خوند يې بيا داسې نه دی او نوې خبرې، نوې هڅونې او د فکر نوې فتح شوي ملکونه لري .همدا راز د مولوي صالح محمد هغه اويابيتيزه مثنوي چې د انګريزي ښکيلاك پخې ماڼۍ ته يې سخت ټکان ورکړ، د بڼې په لحاظ يوه مثنوي وه چې نمونې يې په پښتو ادب کې زړې دي خو د مضمون په لحاظ يوه مهمه موضوع پکې رانغښتل شوې او دنړۍ د ډېرلوی ښکيلاکګر ځواك په مقابل کې يې د آزادۍ او حق سنګر ټينګ کړی دی، همدا د شعر د موخې او هدف اغېز دی چې انګريزيې له خپل ټول قوت او وسلې سره ويرولی او د استعمار دنګه ماڼۍ يې لړزولې ده .غلام محی الدين افغان:

ضروري دی واوره مانه          اخبار هر ملت ته جانه

غزل کې د تغزل زاړه کالبونه مات کړل او د وطن مینه یې پکې ځای کړه ، ملامحمد عرض بیګي بیا دا کار له چاربیتې څخه واخیست او د چاربیتې زوړ چوکاټ یې د وطن د مینې د یو نوي اړخ بیانولو ته چمتو کړ ، مولوي صالح محمد د )) بلبل ګرفتار ((په ژباړه کې ترکیب بند ته نوی روح ورکړ او نوی ترنم یې پکې پیدا کړ:

**خپل وطن ماته عزیز دی تر خپل تن** زړه زما ډک دی له مینې د وطن

ملا عبدالباقي افغان هم د شعر په زاړه قالب کې نوي فکرونه وځلول او نورو هم همداسې وکړل .د سراج الاخبار په پاڼو کې مو د پښتو د شعري بدلون ښېلګې تر نظر تیرې شوې ، هلته په لره پښتونخوا کې هم د شلمې پېړۍ له پیل سره د پښتو نننې ادب غزونې وکړې او هلته هم تر کالب ماتیدنې وړاندې شاعرانو د شعر په زړو کالبونو کې نوې سا وپوکله او د دې ډلې سرلاري راحت زاخیلي وویل:

چې قفس کې یې ژړل دا یې ویله یوه ورځ زما تر غوږ شوله بلبله

ولې نه پوښتې څوک حال زما یو دبله چې بندي شوم د صیاد له سخته دله

ولي نشته بې فغانه کار او بار زما ولې حبس ابدي راغلی په وار زما

او په دې ترتیب یې پښتانه قدم اخیستلو ته وهڅول او په خپله یې هم د پښتو په ادب کې نوي ګامونه اخیستل پیل کړل.

د پښتو په زړو کالبونو کې نوې سا عامه شوه او د شلمې پېړۍ په دريولومړيو لسيزو کې د نوي ژوند روښانوونکي او بيا نوونکي ډېر شعرونه وويل شول او په لره پښتونخوا پر راحت صاحب سر بېره په ده پسې اروابښاد **فضل محمود مخفي**، محمد اسلم خان کمالي، محمد اکبر خادم، عبدالخالق خليق، ميا احمد شاه، عبدالمالك فدا ، فضل احمد غر، او نورو ډېرې د ژوند ترانې وغږولې او ډېرې د ژوند سندرې يې ووېلې .**فضل محمود مخفي** به ويل:

**داسې قام نه دی د بل په دم تازه — لکه څوک د چا په سا نه ژوندی کيږي**

**خدای د پاره واخله خپل قدم تازه — که د تللي کاروان پل درنه غلط وي**

محمد اسلم خان کمالي د افغان د يو والي ناره داسې اوچته کړه:

په دې اور کې راله آرام را — ربه مور له مينه د قام را

**محمد اکبر خادم** پښتو غزل ته داسې زور او شور ورکړ:

د دنيا هره خطه کې د پښتون دين ايمان يودی — اباسين آموترکوټې دغه واړه افغان يودی

فضل احمد غر افغان بيا نو د پښتنو په دنګو غرونو کې د پښتو ا دب خواږه ازانګه داسې خواره کړل:

په پوکو چي تازه کيږي هغه سکوريم　　چي مشال ترې رڼا اخلي هغه اور يم

په دې څه که نن سور نه ښکاريږم توريم　　بيا به اورشم که پوکی راته چا راکړ

- که منزل ته د مقصود رسيده غواړې　　وارخطا دي خطرې د لارې نه کړې

مه وېرېږه که دي مخکي مشين ګن وي　　که دي خيال د آزادی د خپل وطن وي

که بهار د نورو خلګو په چمن وي　　چي زما په باغ خزان دی زه يې څه کړم

چي کوم ځای کې د قومي شهيد مدفن وي　　څو ګلونه د هغه دپاسه کښېږده

په لره پښتونخوا کې د نني شعر په پرمختګ کې لومړی د راحت زاخيلي افغان جريدې چې په ۱۹۱۰ کال تاسيس شوه درنه برخه واخيسته ، په پښتوادب يې نوې پېرزوينې وکړې او په پښتو کې يې نوي ادبي صنفونه او ژانرونه دود کړل، په ۱۹۲۵کال د )) سرحد ((د مياشتنۍ مجلې په خپريدلو سره د پښتو د نني شعر او ادب پالنه د دې خپرونې په غاړه وه او بيا نو په ۱۹۲۶کال د )) افغان (( مياشتنۍ مجله په دې خدمت کې ورسره مله شوه او په ۱۹۲۸کال کې د )) پښتون (( مجلې په تاسيس سره نوی ادب او شعر د نوي ټاکلي هدف له پاره په نه ستړي کيدونکي خدمت بوخت شو.

په هر حال دا وخت سره له دې چې زموږ په ادب کې د خپلواکۍ غوښتنې او ترقۍ ته د رسیدلو فکر په شعر کې چټکې غزونې وکړې خو په اوله کې د بڼې له پلوه په شعر کې کومه مهمه قالب شکني ونه شوه .شعري کالبونه ماتېږي:

په ۱۹۱۹ کال د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ په تر لاسه کیدلو سره د شعر له لاس او پښو څخه هم پخواني زنځیرونه مات شول او نوې لارې او لورې یې ځان ته وټاکل .که څه هم د دې دورې ډېر شعرونه په لاس کې نسته خو د دې وخت څو هغه ملي او وطني ترانې چې راپاتې دي ټولې لوړ موسیقیت لري او تر دې وخته پورې چې د پښتو شعر کوم ولسي او دیواني کالبونه موجود وو په یوه قالب کې هم نه دي ویل شوي لکه:

له اسمانه چي آواز راځي د څه دی  واورئ ایې پر مخ د مځکي اوسېدونکو

د غلام تر دایمي ژوندن نه ښه دی  د آذاد یو ساعت ژوند په حقیقت کې

کله چې د کندهار **طلوع افغان** د لوی استاد پوهاند **عبدالحی حبیبي** په چلونه د ۱۳۱۰کال) ۱۹۳۲ع (د کب له شپاړسم څخه ورو - ورو ټول په پښتو واووښت پښتو ادب ته یې د نورو بنیادي بخښنو تر څنګ نوي پاړکي هم وروبخښل، لومړی یې داسې پاړکي پکې خپاره کړل چې د لرغونو مسدسونو، مخمسونو ، ترکیب بندونو، ترجیح بندونو پخواني بندیزونه یې پکې مات کړل او نوښتونه یې پکې راوستل او بیا

يې د ۱۳۱۱کال) ۱۹۳۲ (د غبرګولي په ۱۸ نیټه )) : وپښتو ته د پښتو نوٰ شعر ((تر سرلیك لاندې یو داسٔ شعر نشر کړ چې پخواني ټول معمول کالبونه یې له بېخه پکې وران کړي وو:

ملک محکم او قوي دی افغانستان متین		شاه غازي دی امیرامان الله خان

رمین حصین سنګین		عادل عاقل عامل کامل

ورپسې یې ډېر دا ډول پارکي نشر کړل او د پښتو شعر یوه نوې دوره یې پیل کړه او هم دوخت ګڼو معاصرو شاعرانو خپلو شعرونو ته دا نوي قالبونه خوښ کړل . د کندهار )) پښتو مجله (( بله خپرونه وه چې لومړی یې په کندهار او بیا په کابل کې خپرونې درلودې او د پښتو د زړو شعري کالبونو په ماتولو کې یې ونډه واخیسته )) . کابل ((مجلې د )) پښتو ((مجلې تر مړینې وروسته دا دنده پرمخ بوتله او د پښتو د نوي شعر غوره نمونې یې وړاندې کړې ، د ننګرهار )) اتحاد مشرقي ((او نورې خپرونې هم ورسره ملې شوې، د پښتو په نني شعر کې د نوي ادب له هغو سراارو څخه چې په بره پښتونخوا کې یې د پښتو شعرشکل او مضمون ته نوښت ورکړ لوی استاد اروانباد پوهاند حبیبي، اروانباد استاد بېنوا ، اروانباد استاد الفت ،اروانباد استاد خادم اروانباد محمد رسول مسلم، اروانباد مولوي صالح محمد ، اروانباد محمد عثمان پښتون، اروانباد استاد **محمد گل نوري** او نور دي.

په لره پښتونخوا کې هم همدا وخت د پښتو شعر نوي – نوي کالبونه جوړ شول او د دوی په اصطلاح شاعرانو )) نظمونه (( رامنځ ته کړل چې بېلابېل جوړښتونه او د مسریو او بیتونو او ډونونه لري، د برق کاکا خېل د بېلتون سندره د همدې وخت ده چې )) پیغام سرحد ((خپره کړې ده :

غر په لوري په گلزار          بهار راغی په یو وار          ټول وطن شو سبزه زار

بلبلان په چغار سر          بوراگان او تر اوتر          نوی

شان دی د دنیا          غر په سمه په بیدیا

د اروابناد فضل محمود مخفي د )) وطن (( ترانه هم همداسې یو نوی اثر و چې نوی خوند او رنگ یې درلود :

وطن وطن یا خوږ وطن زما  په ماله هر څه گران په تاکې دی ارام

د روح ، د سر، د تن زما له تانه زه قربان

د اروابناد عبدالمالك فدا دې نظم :

دا دنیا کړه ورانه ورپه سر دغم کڅوړه کړه          نوې دنیا جوړه کړه

په پښتو کې د ادبي اوښتون يوه ښه او پخه نمونه وړاندې کړه .په لره پښتونخوا کې د دې غورځنګ سر لاري فضل محمود مخفي ، عبدالمالك فدا، فضل احمد غر، محمد اسلم کمالي، محمد اکبر خادم، عبدالخالق خليق، ميا احمد شاه شاه، عبدالاکبر خان اکبر، سمندر خان سمندر، سيد رسول رسا، فضل حق شيدا، عبدالله جان اسير، محمد شاه خيال او نور دي.

د پښتو د نثني شعر په فکري بدلون کې لومړۍ په لره او بره پښتونخوا کې د انګريزي ښکيلاك په وړاندې عمومي خوځښت د افغانستان خپلواکۍ بهير او په لره پښتونخوا کې د انجمن اصلاح الافاغنه ټولنيز تحريك او بيا د خدايي خدمتګار سياسي ګوند، په افغانستان کې د ويښ زلميانو سياسي خوځښت او دې ته ورته فکري او سياسي تحريکونو لويه ونډه درلوده او د نويو شعري کالبونو او شکلونو له پاره يې وخت په وخت نوې فکري او موضوعي غذا رسوله.

هو ! دا هم د يادولو ده چې د نويو کالبونو په څنګ کې زړو کالبونو هم وده وکړه او نوې سا پکې ښه او ښه وچليده ، شعر د بيان ساحه هم پراخه او د الوت وزرونه يې وغوړېدل، پښتو شعر نوې ښه ومونده او د فکر او خيال نوي افقونه يې په نخښه کړل.

د پښتو د دې نويو شعرونو دودېدو په وخت کې لا دپښتو لرغونې سندرې نه وې تر لاسه شوې او لا تر دې وخته د سليمان ماکوتذکره الاولياء او د محمد هوتك پټه خزانه په لاس کې نه وې خو جالبه ده اوس چې د پښتو لرغونې سندرې لکه د امير کروړ وياړنه، د بيټ نيکه مناجات، د خربښون ځلوريځه، د اسماعيل نيکه نارې، د شيخ تيمن پاړکی، د ملکيار غرشين پاړکی، د قطب الدين بختيار کاکي سندره، د شيخ متي مناجات، د هوتك بابا سندره او نوې سندرې دواړه لرو نو کله چې دا نوې او د نويو کالبونو لرونکې سندرې د لرغونو سندرو ترڅنګ کښېږدو يو بل ته ډېر ورته جوړښتونه لري او څرګندېږي چې په غير ارادي ډول پښتو شعر خپل لرغوني آريايي اصل ته رجوع کړې او په خپله طبيعي لاره روان شوی دی.

په دې توګه کالب ماتونې دومره پرمختګ وکړ چې له آزاد يا سپين شعر سره يې ډېره نږدې پوله پاتې شوه او قافيې او رديفونه يې ډېر لږ په پام کې ونيول.

آزاد شعرونه وزر پرانيزي:

شلمې پېړۍ د ادبي يون او تلون چار لاپسې ګړندۍ کړه، په زړو کالبونو کې نوې سا وچليده، نوي فکر زاړه کالبونه مات کړل ، ترڅنګ يې آزاد شعر وزر ورپول او د پښتونخوا د شعر په ارته فضا کې يې الوتنې پيل کړې .په دې ترتيب د شلمې پېړۍ د

شاعرله پاره چې ډېرې غوښتنې او ډېرې پوښتنې او هیلې لري د خپل فکر د بیان ډېرې او بېلابېلې لارې خلاصې شوې.

آزاد پاړکي چې سپین شعرونه او بې قافیې شعرونه هم ورته وایي او ځینې کسان یې ))نوي شعرونه ((هم بولي په ختیځ ادب کې نوې پدیده ده او په پښتو کې هم د آزادو شعرونو دودېدل د شلمې پېړۍ وروستۍ نیمایي سوغات دی.

ځینې کسانو ته چې آزاد پاړکي پر قافیه او ردیف سربېره له وزن څخه هم آزاد ښکاري دا لویه تېروتنه ده، ځکه شعر چې کله له وزن له لاسه ورکړي هغه بیا شعر نه ګڼل کېږي او د نوي منثور ادب د نورو ډولونولکه لطیف ادب، ادبي ټوټې او نورو په ډله کې راځي او همدلته دي چې د آزاد و شعرونو ویل د مقیدو شعرونو تر ویلو سختېږي ځکه په مقیدو شعرونو کې د ردیف او قافیې ترڅنګ د مسریو د وزن څپې هم ټاکلې او شمېرلې وي خو په آزادو پاړکو کې داسې کومه تله نسته نو وزن یې بې له دې چې څپه ییز انډولونه ولري یوازې د شعرد موقعیت) تون (له مخې په نامحسوس ډول تعقیبېږي او دانو واقعاً چې دروند کار دی او تر څو چې د وزن پیمانه ډکه نه کړي داسې وینا ته آزاد شعر نه شو ویلای.

سره له دې چې د پښتو په اولسي سندرو کې ځينې د نکلونو نارې ، ځينې د اتڼ نارې ، ځينې د ښادۍ بدلې او نور سته چې رديف او قافيه نه ساتي ، يوازې وزن لري او د ننني آزاد شعر په قانون برابرېږي لکه دا ناره :

که اور ګډه کړې د برېڅو پر سپين ږيرو مرور يې پخولا نه کړه

او يا داسروکی :

ۀ پاچا دبلخ بلخ درې – درې شينکي رودونه ۀ پاچا دبلخ

خو بيا هم په پښتو ادب کې نوي آزاد پارکي د اروپا يي شعرونو په پيښو) تقليد ( رامنځ ته شوي او دلويديځ له لوري يې زموږ ادب ته لاره موندلې ده.

آزاد پارکي هم لومړی يوازې له قافيې او رديف نه آزاد شول نوريې دخپلو مسريو د سيلابونو تول وساته خو بيا ډېر ژر يې د مسريو د څپو تول هم له لاسه ورکړ او د لږو او زياتو څپو مسرۍ سره و اوډلې شوې او يوازې د شعر د لوستلو په وخت کې يې د يوې پارچې شعر له پيله بيا پايه داسې آهنګ وساته چې د شعر بېلابېلې کړۍ سره بېګانه نه ښکاري او له يوې مسرۍ نه بلې مسرۍ ته د تللو په وخت کې د شعر په آهنګ کې ناموزون ځنډونه، ګنډې او خنډونه نه پېښېږي.

لکه څرنګه چې د بشپړ تیاییي یون غوښتنه ده نوې مقفې سندرې لومړۍ په بې قافیې خو سره همتوله څپو لرونکو مسریو اوښتې او بیا بې قافیې شعرونه په بېخي آزادو شعرونو بدل شول دا بهیر روان دی ښکاره نه ده چې دا یون به بیا په څه اوړي او آزاد شعر به څه بڼه غوره کوي؟

د افغانستان په خپرونو کې لومړني بې قافیې شعرونه چې ما لیدلي د )) کلیمه داره روپۍ ((ډرامه ده چې اروابناد استاد عبدالرحمن پژواك سرتر پایه په آزاد شعر کښلې او د سیلابونو د تول په ساتلو سره یې یوازې ردیف او قافیه له لاسه ورکړي دي ، دا ډرامه تر ۱۹۳۸ کال رارورسته کښله شوې او یوه برخه یې دا ده )) :یاره ، خو لنډه دا ده د دې له خولې نه جارشم ما ویلې څنګه به شي زه به جګړې ته ووزم دا به په اوښکو ناسته د بېکسۍ نه ژاړي.

تر دې راوروسته د اروابناد عبدالعظیم ساپي هغه ازاد شعرونه دي چې د ۱۹۵۲کال په اوږدو کې د )) نیلاب ((آزادۍ جریدې خپاره کړي دي )) :دا پښتو د پښتونخوا د پښتنو ده پرې به پایي ، پرې به ویاړي واړه لوګه زه پښتون یم له پښتو سره مې ده مینه هم روزمه به یې زه په پښتونواله.

وروسته د ډېرو شاعرانو آزاد شعرونه وويل :اروابناد استاد الفت، اروابناد استاد بېنوا ، ښاغلي سليمان لايق، ډاکټر زيار، ښاغلي محمد صديق پسرلي، اروابناد پوهاند ډاکټر سيدبهاء الدين مجروح ، ډاکټر هېر، حبيب الله رفيع، ښاغلي عبدالباري جهاني، او نورو ګڼ شمېر شاعرانو په افغانستان کې آزاد شعر وپاله او نوې – نوې - خوږې – خوږې -پارچې يې رامنځ ته کړې.

په لره پښتونخوا کې هم اروابناد سيد رسول رسا، فضل حق شيدا او نورو کالب ماتونه د بې قافيې شعر تر پولې راورسوله او تر ۱۹۵۸کال راوروسته بې قافيې شعرونو په اساسي توګه غزونې وکړې چې سرلاري يې قلندر مومند ،مراد شينواری، غني خان، اشرف مفتون، دبندارمايل ، فوزيه انجم، او نورې دي .د پښتو د اوسني ادب شعر اصلي مايه او فکري پانګه دهيواد پالنې موضوع او د ناسيوناليزم د سياسي مکتب دلارې پالل وو چې د شلمې پېړۍ له پيله تر پايه يې ښه وده پکې وکړه، خو د شپيته په لسيزه) ۱۹۶۰(کې پر کيڼ افراط ولاړې کمونستي سياسي مفکورې هم دپښتو اوسني شعر ته لاره وکړه او په لره او بره پښتونخوا کې يې يو شمېر شاعران رامنځ ته شول، لږ وروسته په ښي افراط ولاړه د پان اسلاميزم مفکورې هم په پښتو شعر کې خپله لاره خلاصه کړه او په تېرو څلورو لسيزو کې يو شمېر پښتنو شاعرانو دا دواړې سياسي لارې د ادب په ورشو کې وپاللې.

په دې ترتیب د پښتو اوسنی شعر له یوې خوا د شکل او بڼې له مخې پرمختیایي ګامونه واخیستل او له بلې خوا یې د موضوع او مفکورې له مخې رنګارنګي پیدا کړه او هم یې د فن او هنر له اړخه د پرمختګ او ودې په لور ګامونه واخیستل، له هره اړخه معیاري شعرونه رامنځته شول، ځوان او ځپاند شاعرانو خوږې او خوندورې شعري نغمې او ترانې وغږولې او دپښتو اوسنی شعر په افقي اوعمودي ډول د پرمختګ لارې ووهلې.

په عمومي توګه دپښتو د ننني ادب د شعر د برخې په وده کې د لرې او برې پښتونخوا موقوتو خپرونو ، ورځپاڼو ، جریدو او خصوصاً مجلو زیاته ونډه ودرلوده چې راډیو او ټلویزیون هم ورسره مرستي شول او وخت پروخت یې د ننني ادب معیاري او خواږه شعر نمونې وړاندې او په خلکو کې خورې کړې خو د دې ترڅنګ د پښتو د ننني شعر ځانګړې ټولګې هم په لره او بره پښتونخوا کې نشر شوې چې شمېره یې سوونو ټولګو ته رسېږي او دا ټولګې په ټوله پښتونخوا کې لاس په لاس شوې.

په دې ترتیب د پښتو اوسنی شعر له نویو تجربو ، نویو ارزښتونو ، نویو پیغامونو، نویو لاسته راوړنو او نویوهیلو او امیدونو سره د یوویشتمې پېړۍ پر درشل وردننه شو او د پرمختګ نویو افقونو ته سترګې په لار دی :

نور قافلې دې بې خطره درومي          موږه په لاره مشالونه کښېښو.

راځه چې پاڅوپر لاري ځونه     کښېنه له خوابه               پاڅه پښتونه

پام کړه چې نه شې ته سرنګونه

وکړه کتنه شوروماشور ته دعلم               ولاړشه ګوره               ايې زما وروره

مه سې نسکوره                              ووځه له کوره